# Evolution of Pashto Language in Swat

# په سوات کښې د پښتو ژبې ارتقا

Dr. Muhammad Ali Dinakhel★

***Abstract***

Swat has its distinctive political, social, cultural and literary history. Swat has been recorded in ancient historical sources. Reg Veda has mentioned river Swat. Greek historian Arrian mentioned Swat for the first time in recorded history. Pashtun came to Swat from 11th to 16th century. Pashto literary tradition started in Swat with the arrival of Yusufzai Pashtuns in early 16th century. Pashto was declared as official language of Swat state in June 1937. When Swat stte was merged with Pakistan in 1969 Pashto continued to some extent to be the language but very soon it was replaced by Urdu and English. This article attempts to explore the evolution and development of Pashto language in Swat from its inception to the end of nineteenth century.

***Key Words:*** Pashto, Pashtuns, Swat, Swat State, Literature, Language

## پېژندګلو

د سوات د سیند ذکر په رګ وېد کښې موندلے شي.[1] د سوات د تاریخ وړومبے ذکر یوناني تاریخ دان اریان کړے دے[2]. د سوات د وادۍ زوړ تاریخي ، تهذیبي، او ادبي پس منظر دے. د تاریخ په مختلفو دورونو کښې د سیاسي او انتظامي وجوهاتو له کبله د سوات په جغرافیائي حدونو کښې بدلون راغلے دے. لکه د یو منظم ریاست د جوړېدلو نه وړاندې د سوات حدونه، د سوات د ریاست په پاکستان کښې د انضمام نه وروستو د سوات حدونه او بیا د سوات د ضلعې حدونه. د دې انتظامي او سیاسي بدلونونو په وجه چې د سوات په جغرافیائي حدونو کښې کوم بدلون راغلے دے نو په مختلفو دورونو کښې د دغه جغرافیائي سرحدونو د بدلون د وجې مونږ د سوات په جغرافیائي حدونو په ښې طریقې د پوهېدلو د پاره د سوات

★ Lecturer Area Study Centre, University of Peshawar

سره درې قسمه سابقې لګولے شو ۔لکه وادي سوات، رياست سوات او ضلع سوات۔ د معلوم تاريخ د مخې پښتانۀ سوات ته د محمود غزنوي د فوج د حملو په وخت کښې راغلي دي۔ بيا يوسفزي پښتانۀ سوات ته د شپاړسمې صدۍ په وړومبي دور کښې راغلي دي۔ د پښتو د تحريري ادب نخښې نښانې په سوات کښې د يوسفزو د راتګ نه وروستو په نظر راځي۔ د يوسفزو د راتګ نه تر شلمې صدۍ د شروع پورې دې دور ته د سوات په ادبي تاريخ کښې "د پښتو دور"يا د"پښتتو زمانه"وائي۔ دا د سوات د ادبي تاريخ وړومبےدور دے ۔ دوېم دور ته رياستي دور وائي کوم چې د سوات د رياست د جوړېدو نه تر ضم کېدلو پورې دے يعني د ۱۹۱۵ نه تر ۱۹۲۹ پورې۔ په سوات کښې د پښتو ژبې په ارتقا باندې په ښۀ طريقه د پوهېدلو د پاره دا مقاله په لاندينو برخو وېشلے شوې ده۔

1. د سوات لنډ تاريخ، جغرافيه او حدونه
2. پښتو او پښتانۀ په سوات کښې
3. سوات ته د يوسفزو راتګ
4. د پښتو ژبې ارتقا په سوات کښې (داول نه تر نولسمې صدۍ پورې
5. پښتو ژبه د سوات په رياست کښې (۱۹۱۵ نه ۱۹۲۹ پورې)
6. د پښتو ژبې تدريس
7. پښتو ژبه د ۱۹۲۹ نه ۲۰۰۰ پورې
8. نتېجه

- د سوات لنډ تاريخ، جغرافيه او حدونه

سوات په تاريخي، سياسي، کلتوري، ادبي، لساني او جغرافيائي لحاظ سره خپلې ځانګړتياګانې لري۔ سوات په موجوده وخت کښې د خېبر پښتونخوا يوه انتظامي ضلع ده۔ د پاکستان د جوړېدلو نه وړاندې سوات يو ازاد رياست وۀ د کوم بنياد چې په کال 1915کښې عبدالجبار شاه ايښودے وۀ او په کال 1917کښې مياګل

عبدالودود د رياست واک اختيار په خپل لاس کښې واخستلو او په 1949کښې يې د دغه رياست واک خپل ځوي ميا ګل جهانزيب ته اوسپارلو ـ په کال 1969کښې د پاکستان حکومت د سوات رياست په پاکستاني رياست کښې ضم کړۀ ـ او د رياست علاقو له يې د يوې ضلعې حيثيت ورکړۀ ـ وروستو په مختلفو وختونو کښې د کوهستان، بونېر او د شانګلې علاقې د سوات د ضلعې نه بېلې کړلے شوې او ځان ځان له ضلعې جوړې شوې او طبعي سوات ځان ته يوه بيله ضلع پاتې شوه ـ

- پښتو او پښتانۀ په سوات کښې

د محمود غزنوي لښکرو د يوولسمې صدۍ عيسوي په شروع کښې په سوات حمله اوکړه او په دغه وخت کښې نورې افغان قبيلې هم سوات ته راغلې او دلته ميشته شوې ـ په دې افغان قبيلو کښې څه قبيلې د سواتي پښتنو په نوم پيژندے شي ـ فريډرک بارتهـ هم وائي چې پښتانۀ سوات ته د 1000عيسوي نه واخله د 1600عيسوي پورې په مختلفو دورونو کښې راغلي دي ـ[3]يوسفزي په شپاړسمه صدۍ کښې سوات ته راغلي دي ـ د يوسفزو د راتګ نه مخکښې چې سوات کښې د کومو پښتنو قبيلو ذکر کيږي هغه دله زاک او سواتي دي ـ په دې کښې زياتې قبيلې د محمود غزنوي د لښکرو سره راغلې وې ـ په دغه قبيلو کښې د دله زاکو او سواتو د اصل نسل په باره کښې مختلفو کتابونو مختلفې خبرې ليکلي دي ـ چا ليکلي دي چې دا پښتانۀ دي او چا وئيلي دي چې دا قبيلې ټولې پښتنې قبيلې نۀ دي ـ په تزک بابري کښې دله زاک افغان (پښتون) بللے شوي دي ـ [4] په سوات کښې تر 906هجري يعنې 1500عيسوي پورې په د دله زاکو قبضه وه ـ سوات کښې د دله زاکو د ابادېدو او بيا د سوات نه د شړلو په حقله محمد اصف خان ليکي چې د محمود غزنوي نه وروستو سوات کښې دله زاک او سواتي اباد شو ـ سن ځلور سوه هجري پورې خو دا دواړه قبيلې په قلاره اوسېدلې خو اخر پکښې اختلاف پېدا شۀ ـ سواتيانو دله زاک د سوات نه اوشړل ـ هغوي د پېښور او مردان په علاقو کښې اباد شول ـ[5] دا هم وئيلے کيږي چې د 402هـ نه تر 906هـ پورې په سوات بونېر وغېره علاقو باندې د دله زاکو

حکومت وۀ۔[6] یوسفزو په دله زاکو حمله اوکړه او د سیمې ټوله علاقه یې د دوي نه واخسته او دوي چچ هزارې ته پورې وتل۔[7] یوسفزي چې د افغانستان نه پېښور ته راغلل نو دله زاکو د دوي سره ډېر ښۀ سلوک اوکړۀ او دوي له یې د ګوزارې دپاره زمکې هم ورکړې خو څه وخت وروستو دله زاکو یوسفزي تنګول شروع کړل نو ملک احمد د خپل مدد دپاره د محمد زیو سره صلاح اوکړه او په دله زاکو یې حمله اوکړه او دا رنګ دله زاکو شکست اوخوړۀ۔ او په سوات کښې د سلطان اوېس سره یې پناه واخسته۔[8] د دې نه وروستو د یوسفزو مخې ته د دله زاکو پښې نه دې ټینګې شوې۔ او د دوي اکثر کډې هندوستان ته هم تلي دي۔[9] په سوات کښې د دله زاکو نه وروستو چې کوم خلق په تاریخي لحاظ د ذکر وړدي هغه سواتیان دي۔ د سواتیانو باره کښې نواز طائر لیکي چې په یوولسمه صدۍ عیسوۍ کښې د دې علاقې خلق په اسلام مشرف شول د یوسفزیو د راتګ نه وړاندې دلته د الائي سواتیان وسېدل۔[10] لکه څنګه چې وړاندې ذکر شول چې د سواتیانو د اصل نسل او د ژبې په باره کښې مختلفو پوهانو بېل بېل نظریات وړاندې کړي دي۔ چا لیکلي دي چې د دوي ژبه ګبري ده چا لیکلي دي چې د دوي ژبه دري ده او چا لیکلي دي چې پښتو د دوي ژبه ده۔ کله چې یوسفزو په سوات حمله اوکړه او کریمداد ابن عثمان الیاس زئي ابازي میرهندا د سلطان په صف کښې اولید نو په فارسۍ یې ورته نعره اوکړه چې "اے میر هندا! اگر مرد هستي وخیال جنگ داري بیا که من حاضرم"او تواریخ حافظ رحمت خاني مخکښې لیکي۔ "ودرآن وقت مردم یوسف زي ازکابل تازه امد بودند۔ فارسي خوب مي گفتند۔"[11]نو د دې نه پته لګي چې د دغه زړو سواتیانو دري یا فارسي ژبه وئېل څۀ نا اشنا خبره نه وه ځکه چې دوي د افغانستان نه راغلي وو چرته چې د پښتو سره سره دري ژبه هم وئېلې کېده۔ لکه څنګه چې د تواریخ حافظ رحمت خاني دپاسني بیان نه ښکاره ده چې یوسفزي چې اول اول د کابل نه راغلي وو نو فارسي به یې وئېله۔ مېجر راورټي زړو سواتیانو (ګبري، متراوي، ممیالي) ته تاجک وائي او د دوي د ژبو باره کښې لیکي چې دې تاجکو به دوه ژبې وئېلې یوه ګبري او بله دري۔

په دې کښې به ګبري ژبه ګبريانو وئېله او دري ژبه به متراويو او ممياليو وئېله . لکه څنګه چې مخکښې ذکر شو چې زړو سواتيانو به يادري (دري) او ګبري ژبې وئيلې . ګبري ژبه يا ګبري لهجه ګبر ته هم وايي . او دا د اوستا او ژند ژبه ده . ژند په پهلوي کښې هم ليکلې شوې وه . چونکې سواتيان د ذوالقرنېن د اولاد سره د زرتشت د اولاد کېدو هم قاېل وو دغه وجه ده چې دوي د خپل ټولنيز ژوند سره سره خپله ژبه هم باقي اوساتله . کومې زړې ژبې يا لهجې چې په بدخشان، واخان او کونړ وغېره کښې وئېلې کېدې کومې چې د بيليو د خيال مطابق د پهلوي ژبې نه راوتي دي په اصل کښې دا ګبري لهجه ده چې د هغې ترقي يافته شکل دري دے.[13] [12]

خو د دغه ټول بحث نه مونږه په دې نتېجه رسو چې محمود غزنوي د لښکر سره چې کومې قبيلې راغلې وې د دوي تعلق که د هر نسل سره وۀ خو هر کله چې دوي پښتو ژبه وئېله او ټول رواجونه يې د پښتنوپه شان وو او د پښتنو سره ډېر ګډراګډ وو نو ځکه په پښتنو حساب وو . [14] او د دې نه دا پته اولګېده چې د يوولسمې صدۍ عيسوي په شروع کښې سوات ته پښتانۀ راغلي دي او دلته د پښتو ژبې شروع شوې ده .

- سوات ته د يوسفزيو راتګ

سوات ته د يوسفزو د راتګ صحيح نېټه معلومه نۀ ده . مختلفو محققينو مختلفې خبرې کړې دي مېجر راورټي وائي چې کله يوسفزۍ قبيلې د کابل د سيند په شمالي غاړه پرته د سمي يا مېداني علاقه قبضه کړه کومه چې د پنجکوړې او د سوات د سيندونو د جنکشن نه شروع کيږي او د اټک په مقام تر اباسينه پورې رسي او نن سبا ورته د يوسفزو سمه يا مېداني علاقه وائي . دوي دا علاقه د دله زاکو نه په 816هجري بمطابق 1413عيسوي کښې قبضه کړه او هغوي د څه وخته پورې غلي پاتې شو .[15] عبدالاکبر خان اکبر ليکي چې يوسفزو په سوات قبضه په 1518ء کښې کړې وه . او31-1530کښې بندوبست و بش شوے وۀ .[16] محمد نواز طائر ليکي چې د څوارلسمې صدۍ ته نزدې زمانه کښې دلته يوسفزي اباد شوي دي.[17] ډاکټر سلطان

روم سوات ته د یوسفزو د راتګ په حقله لیکي چې هغوي د سواتیانو مدافعت اقدامات ناکامه کړل او د شپاړسمې صدۍ په وړومبۍ څلورمه کښې یې کوز سوات قبضه کړو.[18] فریډرک بارتھ وائي چې پښتانهٔ سوات ته د کال 1001عیسوي نه د کال 1600عیسوي پورې راغلي دي.[19] بیلیوسوات ته د یوسفزود راتګ د نېټې باره کښې وائي چې د بابر په زمانه کښې کله چې په وړومبي ځل په 1504کښې هغه کابل ته راغے نو د پښتنو ټوله ضلع د مخکښې نه مختلفو پښتنو قبیلو خپله کالونۍ جوړه کړې وه. او پینځلس کاله وروستو هغه په خپل دوېم سفر کښې اولیدل چې یوسفزي په ټول سوات کښې خواره شوي وو.[20] د دې ټولو خبرو نه پته لګي چې یوسفزي چې اول د افغانستان نه راغلل نو په پېښور او خواو شا علاقو کښې اباد شو او بیا د شپاړسمې صدۍ په دوېمه لسیزه کښې سوات ته راغلي دي.

- د پښتو ژبې ارتقا په سوات کښې: د اول نه تر نولسمې صدۍ پورې

د تاریخ د پاڼو اړولو نه پته لګي چې سوات کښې په هر وخت کښې د مختلفو ژبو او مختلفو کلتورونو او نسلونو خلق پاتې شوي دي. د سوات قدرتي وسائل، د دې ځائے ښائسته ابه اوهوا، خوراکونه او مېوې، او د دې علاقې دفاعي اهمیت هر وخت کښې د مختلفو تهذیبونو خلق ځان ته راښکلي دي. او دغه رنګ یو قوم په بل حمله کړې او بل په بل حمله کړې او دا سلسله جاري پاتې شوې ده. نو ځکه د ډېر لیکونو، د ځایونو د نومونو او د نورو شهادتونو نه دلته د مختلفو ژبو اندازه هم په اسانه لګېدلې شي.

په سوات کښې یو شمېر لرغوني اثار او نور شهادتنه دا خبره په ډاګه کوي چې سوات د ګندهارا یوه اهمه حصه وه. کله چې مونږه د ګندهارا سماجي تاریخ ګورو نو په ګندهارا کښې په هغه وخت کښې چې کومه ژبه وئیلې کېدله د هغې نوم ګندهاري وۀ. په دې باره کښې رفیع الصمد لیکلي دي چې د ګندهارا تهذیب نه وړاندې په جنوبي ایشیا کښې د تیرو دور وۀ. دلته به مختلفې لهجې وئیلې کېدلې او دلته یوه داسې ژبه نۀ وۀ چې د مختلفو ګروپونو په مینځ کښې د رابطې په توګه استعمال

شوے وے۔ کله چې Achaemenidsګندهارا او د اباسین مشرقي طرف ته د ټیکسلا نه ګېر چاپېره علاقې فتح کړې نو دلته حالات په تېزۍ سره بدل شو۔ Achaemenidsچې دلته کوم وسیع سلطنت جوړ کړۀ نو هغه دا غوښتل چې د دې سلطنت په ښۀ طریقه د چلولو د پاره دا ضروري ده چې یوه ژبه او یو رسم الخط دې رائج کړلې شي۔ د Achaemenidsد حکومت چلونکیو انتظامي افسرانو د مقامي خلقو سره د مسلسل رابطو نه وروستو ګندهاري لهجې له ترقي ورکړه۔ د ګندهاري ژبې یا لهجې د استعمال سره دلته انتظامي، سیاسي، او سماجي وحدت مخې ته راغے چې دغه وحدت د ګندهاري ژبې په ترقۍ کښې نوره هم مرسته اوکړه۔ او دغه شان په قلاره ګندهاري د ټېکسلا او ګندهارا یوه غالبه ژبه اوګرځېدله۔ د Achaemenidsانتظامي ډهانچه ډېره زیاته مرکزي وه۔ حقیقي طاقت به د Achaemenidsحکمرانانو سره وۀ د کومو پایه تخت چې په ایران کښې وۀ۔ مقامي ګورنران به په بنیادي توګه ایراني وو او د شاهي خاندان خلق به وو۔ د Achaemenidsپه نظام حکومت کښې تحریري رابطې کول او تحریري ریکارډ ساتل ډېر مهم وو۔ مرکزي حکومت به وخت په وخت د حساب کتاب او جانچ پړتال د پاره مختلفو ګورنرانو پسې د معائنې ټیمان لېږل۔ دې معائنه کارانو به د نظام د نور ښۀ کولو د پاره د خلقو نه رائے هم اخستلې۔ دلته د مقامي رسم الخط نیشتوالي لوئې مسئلې پېدا کړې۔ Achaemenidsبه د ایراني حکومتي خلقو سره او د میسوپوټیمیا د سرحداتو د خلق سره خط و کتابت په ارامي رسم الخط کښې کولو او هغوي د څه حده پورې د مقامي افسرانو سره په ګندهاري ژبه او ارامي رسم الخط کښې رابطې کولو د وجې نه دا رسم الخط دلته هم رائج کړے وۀ خو د ارامي رسم الخط عامول دلته ناقابل عمل ځکه ښکارېدل چې ارامي رسم الخط په صوتي لحاظ سره د ګندهاري ژبې د اوازونو ادا کولو د پاره ناکافي وۀ۔ او هم دغه شان ارامي رسم الخط بنیاد اوګرځولے شۀ او په ګندهارا کښې وړومبے رسم ا لخط خروشتي مخې ته راغے۔او دا په حقیقت کښې د پوره جنوبي ایشیا او برصغیر وړومبے رسم ا لخط دے

ـ د Achaemenidsنه وروستو په ۲۲۰ ق م کښې د موريا خاندان بادشاه اشوکا د ګندهارا خلقو ته خپل پېغام د ډبرليکونو په شکل کښې په ګندهاري ژبه او خروشتي رسم الخط کښې وړاندې کړۀ ـ په ۱۹۰ ق م کښې يونانيانو ګندهارا قبضه کړه خو دلته يې مقامي ژبې او مقامي سکرپټ له توجه ورنۀ کړه ـ يونانيانو په يوناني رسم الخط کښې سکې جاري کړې ـ خو د دې نه فوراً کله چې Demetriusګندهارا قبضه کړه نو هغه په دوۀو ژبو کښې سکې جاري کړې چې په يو مخ به يې په ګندهاري ژبه او خروشتي رسم الخط ليک وو ـ دا د دې خبرې دوېم ثبوت دے چې ګندهاري ژبه او خروشتي رسم الخط په دې علاقه کښې څومره ترقي کړې وه ـ د دې نه وروستو چې څومره بادشاهۍ راغلي دي په هغې کښې د ګندهاري ژبې اهميت او وسعت نور هم زيات شوے دے ـ دا ژبه په مختلفو وختونو کښې په سکو هم ليکلے شوې ده او بيا وروستو د بد مت مذهبي کتابونه هم په دې ژبه کښې ليکلے شوي دي ـ په ګندهاري ژبه کښې د بد مت د تازه موندلے شوو مذهبي متنونو او ډبرليکونو نه ژبپوهان او نور عالمان په دې نتيجه رسېدلي دي چې ټول زاړۀ دبد مت چيني متنونه په ګندهاري ژبه کښې مرتب کړے شوي وو ـ دا د دې خبرې يو مضبوط ثبوت دے چې ګندهاري د زړې زمانې يوه اهمه ژبه وه ـ مرکزي ايشيا او لرې مشرقي علاقو ته د بدمت په رسولو کښې ګندهاري ژبه استعمال شوې ده ـ د هغه مختلفو ملکونو راهبانو، سوداګرنو، تاجرانو، او سرکاري افسرانو به ګندهاري ژبه وئېله او پوهېدل به پرې کومې علاقې چې د ګندهارا تهذيب د اثر لاندې وې ـ په دې ډول ګندهاري ژبې يوبېن الاقوامي حيثيت اختيار کړۀ ـ د ګندهارا تهذيب په مختلفو دورونو کښې ګندهاري ژبه او خرشتي رسم الخط استعمال شوي دي ـ لکه څنګه چې مخکښې ذکر شو چې اشوکا موريا عوامو ته د مخاطب کېدلو د پاره په ډبرليکونو ګندهاري ژبه په خروشتي رسم الخط کښې ليکلې ده دغه رنګ په دوېمه صدۍ قبل مسيح کښې د مېنندر په زمانه کښې هم ګندهاري ژبه استعمال شوې ده ـ د وړومبۍ صدۍ قبل مسيح په شروع کښې دسکيتهين بادشاه په زمانه کښې هم ګندهاري ژبه

استعمالېدله. په وړومبۍ صدۍ عیسوي کښې یو سکیتهین راهب Rhinoceros Sutraد برچ د ونې په پوستکي په ګندهاري ژبه کښې لیکلې دے. د وړومبۍ صدۍ په اخر کښې یو یوناني مشر Agesilasد کنشکا کسکټ باره کښې لیکل په ګندهاري ژبه کښې کړي دي. د کنشکا په زمانه کښې واسومیترا د بد مت د اتلسم مکتب په باره کښې لیکل په ګندهاري ژبه او خرشتي رسم الخط کښې کړي دي. دغه رنګ په دوېمه صدۍ عیسوي کښې درماپادا هم په ګندهاري ژبه کښې لیکلې شوے دے. ګندهاري ژبې او خروشتي رسم الخط په ګندهارا کښې د بدمت په عام کولو او خورولو کښې یو اهم رول لوبولے دے.[21]

کله چې مونږ په سوات کښې د پښتو ژبې په اغاز او ارتقا خبرې کوو نو مونږ دلته د پښتنو راتګ ګورو. د تاریخ په دې اوږد تناظر کښې چې کله مونږ دلته د پښتنو راتګ ته اوګورو نو مونږ ته د بعضې حوالو نه دا پته لګي چې دلته د محمود غزنوي د فوج سره د یو څو افغان قبیلو د راتګ ذکر راځي. د محمود غزنوي د فوځي حملې سره په سوات کښې د هندو شاهي سلسله ختمه شوه او دلته اسلام راغے. د محمود غزنوي د لښکرد حملې او دلته د اسلام د راتګ نه وړاندې دلته هندو شاهي سلسله چلېدله چې د هغوي اخري باچا راجه جېپال وۀ کوم ته چې محمود غزنوي شکست ورکړے وۀ. سوات کښې په بریکوټ کښې په 1897کښې یو ډبر لیک په سنسکرت او دیوناګري خط کښې لیکلے موندلے شوے دے. دا ډبر لیک اوس د لاهور په میوزیم کښې دے. د دې نه پته لګي چې دلته د ګندهاري ژبې او خروشتي رسم الخط نه بعد چې کومه ژبه په نظر راځي هغه سنسکرت ده او رسم الخط دیوناګري دے. لکه څنګه چې وړاندې ذکر شوي دي چې په سوات کښې د مختلفو تهذیبونو خلق پاتې شوي دي او د هغوي باقیات اوس هم په سوات کښې موجود دي. په دغه تسلسل کښې که مونږ د راجه جېپال تاریخ ته اوګورو نو د هغه په باره کښې دا وئیلے کیږي چې دۀ د ګوجر قبیلې سره تعلق لرلو.[22] د ددې حوالې نه د بیلیو[23]، میک موهن[24] او راورټي[25] هغه دعوې هم تقویت مومي د کومو تر مخې چې هغوي

ګوجر د سوات وړومبي اوسېدونکي مني کوم چې نن سبا هم په سوات کښې اوسيږي. خو ډېرو تاريخونو دا هم ليکلي دي چې د سوات کوهستاني خلق د دې خاورې زاړهٔ خلق دے. د راجه جېپال د دې ډېر ليک نه علاوه مونږ ته په سوات کښې د محمود غزنوي د زماني يو بل ډېرليک هم مېلاويږي کوم چې په عربۍ ژبه کښې په ۱۰۴۸ يا ۱۰۴۹ کښې ليکلے شوے دے. دا ليک په اصل کښې د يو جماعت کتبه دے چې تاريخ پرې درج دے او د تاريخ نه علاوه پرې دا لاندېني ليکل درج دي.

- بسمالله الرحمن الرحيم

۲- امر الامير الحاجب ابز منصور

۳-نوشتکين الخبری ادام الله توفيته

۴-بنا هذالمسجد والباوب (sic) فی شهور

۵-سنة اربعين و اربع ما ية تقبل الله

۶-منه و شکرسعيه[26]

دا ډېر ليک په سوات کښې د درېمې ژبې يعني عربۍ او د درېم رسم الخط يعني عربي رسم الخط اثار ښائي.

د سوات د پښتو ادب د وړومبي دور تاريخي شا ليد ته که مونږ وګورو نو صرف سوات د مغل د براه راست قبضې نه ازاد وهٔ. او په براعظم ګوټي او نوره پښتونخوا مغل قابض وو. او د هغوي ټوله توجه فارسۍ طرف ته وه او دغه وجه وه چې د فارسۍ اثرات په سوات هم ډېر زور شوي وو خو بيا هم د دې علاقې ليکوالو د پښتو ژبې سره مينه لرلې ده. او د پښتو ژبې سره د هغوي د مينې دا اظهار څه د هغوي په کتابونو کښې په نظر راځي، او لوئے ثبوت يې دا دے چې هغوي د پښتو دا قيمتي ادبي سرمايه پرېښودې ده. د دې نه پته لګي چې د هغه وخت ليکوالانو د پښتو ژبې ضرورت او اهميت محسوس کړے وهٔ او د دې ژبې د ترقۍ د پاره يې شعوري کوششونه کړي وو. د دې ليکوالانو د کتابونو نه دا ښکاره ده چې هغوي پښتو ژبې ته څومره ارزښت ورکړے دے. دلته د سوات د پښتو ادب د کلاسيکي ليکوالانو د

کتابونو نه هغه حوالې نقل کولے شي په کومو کښې چې هغوي د پښتو ژبې ذکر کړے دے او د دې ژبې د ترقۍ د پاره يې کوششونه کړي دي او د پښتو ژبې اهميت ترې په نظر راځي. په دې حقله اول به مونږه د مخزن نه هغه حوالې واخلو په کومو کښې چې د پښتو ژبې د ضرورت اهميت او د د ې ژبې سره د مينې ذکر شوے دے.

1. په خوږه افغاني ژبه هم د نظم په جوړونه[27]

2. امالي کتاب يې روغ کړ. ته په دا بيان باور کړه چې په لفظ د افغاني دے.[28]

3. اوس د زړۀ په غوږو واوره دا بيان چې افغانې دے. عربي يې په پښتو کړ.[29]

4. دا کتاب مې عربي وۀ. رحم اوکړه اے ښښتنه په هغه کس چې يې پښتو کړ.[30]

5. دروېزه چې اجتهاد په علم اوکړۀ. عربي يې پښتنو لره پښتو کړه. نور غم غرض يې نه وۀ مګر دا چې په نېکانو کښې يادېږي.[31]

6. دا کتاب مې عربي وۀ. د نبي صفت کړے محمد بوصيري دے. فقير ځنې پښتو کړ.[32]

7. دروېزه چې عقائد په پښتو ووې شفقت يې وۀ په لوئے په هلک په ازاد په بنده ؤ پښتانو.[33]

8. عقيده د امام محمد شامي په عربۍ وه. دروېزه بنده پښتو کړه. بل هر مومن دې ايزده کړه چې ايمان يې پرې قوي شي له کماله.[34]

9. دروېزه بيان پښتو کړۀ له کتابه له حديثه بل هر چې مومنان دي په سينه او په تهرېې کېږدينه.[35]

10. دروېزه کتاب پښتو کړ. بل واړه افغانان دې يې هم ياد کا چې فرقې د ګمراهانو دوي زده کا هم ايمان له دوي وژغوري.[36]

11. دا بيان که افغانې دے په دغه رنګ وئېلے عبدالله يافعي دے. په رساله مکيه کښې يې وغواړه که باور دې په پښتو ژبه نه کېږي.[37]

12. دروېزه بيان پښتو کړ، په فارس په عرب کښې عالمان دي خپل قام وته په خپله ژبه وائي. ولې کم څوک پېدا شوي له افغانانو.[38]

13. دروېزه چې عربي پښتو کوينه دا يې واړه شفقت پر افغانان دے. هر چې دا بيان

په ياد کا افغانانو لره دا بيان تمام دے.[39]
14. دابيان يې دے په شرح مختصر کښې په فارسۍ ژبه وئيلے. دي فقير ځنې پښتو کړۀ. بله غاړه شي د دې عام افغانانو. خدائے په هره ژبه بوله عربي وي که فارسي وي که هندي که افغاني. په هغه ژبه يې بوله چې دې زده وي دا اقوال د امامانو. اوس اکثر عالم دا وايي چې قرآن په عربي دے په ناحقه فرض واجب څوک پښتو کوينه، دوي په دا وينا لغزيږي نه پوهيږي. دغه خوي د جاهلانو. دروېزه چې په پښتو ژبه بيان کا غم يې د بوهله ؤ افغانان دے. هر چې فرض او واجب زده کا دوي به نه شي د منکرو کافرانو. دا فقير څه له پيرانو منکر نۀ دے. دۀ دے لاس ورلګولے که ازاد وي که بنده وي چې سني وي پر جمله مسلمانانو.[40]
15. دروېزه چې څه بيان کا واړه دين د پاک نبي بيانوينه. پښتانۀ په بله ژبه نه پوهيږي. ځکه دے يې په پښتو ژبه وروښېينه. واړه دين د پاک نبي بيانومه. و پوهيږئ مومنانو، د دې پاک نبي له دينه په دا خپله ژبه پوهه شئ افغانانو.[41]
د اخون دروېزه د مخزن نه چې کومې بره ذکر شوې حوالې اخستې شوي دي په دې کښې بار بار د پښتو د ذکر نه د پښتو ژبې په هغه وخت کښې د اهميت او ضرورت او ترقۍ اندازه لګيدلې شي. او دا خبره هم په ډاګه کيږي چې په هغه وخت کښې ليکوالانو د پښتو ژبې د ترقۍ د پاره څومره کوششونه کړي دي. هغه پښتو ژبه کله کله په افغاني نوم هم ياده کړې ده. پښتانۀ په عربۍ يا فارسۍ نه پوهېدل ځکه هغوي ته د عربۍ او فارسۍ نه د عقايدو او د ايمانياتو بنيادي خبرې پښتو ته ترجمه کول ضروري وو. د اخون دروېزه د پښتنو سره ډېره مينه وه چې هغه د فارسۍ او عربۍ کتابونه د دوي دپاره ترجمه کړل او د دې مينې برملا اظهار يې کړے دے. يوه خبره دا هم په ډاګه شوه چې هغه وخت کښې په پښتو ژبه کښې په ليکلي شويو کتابونو د خلقو اعتبار کم وۀ ځکه خو اخون دروېزه وا ئي چې که په پښتو ژبه کښې په ترجمه شويو خبرو د چا اعتبار نه وي نو په بله ژبه کښې دې يې وګوري. او اصل ماخذ طرف ته دې رجوع اوکړي. دا يو قسم له د ترجمې په فن د عبور دعوه او مخالفينو ته يو

چیلنج هم دے۔ د دې خبرې نه د اخون دروېزه د ترجمې د فن او مهارت اندازه هم لګي ځکه خو هغه دومره په اعتماد سره وائي چې که د چا څه شک وي نو اصل ماخذ ته رجوع کولے شي۔ اخون دروېزه ته دا احساس وۀ لکه څنګ چې د فارسۍ او عربۍ عالمان خپلو خلقو ته په خپله ژبه تعلیم ورکوي دغه شان مونږ له هم پښتنو ته په پښتو کښې تعلیم ورکول پکار دي۔ اخون کریمداد هم په خپله الف نامه کښې ځائے په ځائے د پښتو ژبې ذکر کړے دے۔ د نمونې په توګه يې دا لاندیني شعرونه وړاندې کولے شي۔

د پیرۍ شـــرطـــــونه ډېر دي
په دا افغاني ګفتار کښې نه ځائېږي[42]

کـــریمداده ته څه بې باطنو نۀ يې
چې په پښتو ژبه دې پوهه خلقه کا[43]

کله کله دې لیکوالانو د پښتو د پاره د افغاني لفظ او کله کله د پښتو لفظ کارولے دے۔ لکه د کریمداد په لپاسنو شعرونو کښې چې په نظر راځي۔ عبدالحلیم هم په خپلوشعرونو کښې د پښتو ژبې ذکر کوي۔

واورئ یارانو دا بیان يې په فارسۍ وۀ
په پښتو ژبه د حلیم د خلې ګفتار شي[44]

په فوائد شریعت کښې اخون قاسم پاپین خېل د پیربابا، اخون دروېزه بابا او اخون کریم داد باره کښې داسې لیکي۔ "څۀ کامل يې برکت شۀ۔ عالم زیات اهل سنت شۀ۔ په پښتو يې دین بیان کړۀ۔ ګوښې ګوښې يې عیان کړۀ۔ د پښتون عذر يې ورک کۀ۔"[45]دوست محمد خان دوستے هم د فارسۍ نه د پښتو د ترجمې باره کښې داسې لیکي۔

دا رنګ نقل په فارسۍ وُ اے صاحبه

دوست محمد ترې رابهر کړۀ عجائبه
که څوک وکاندي په دا رنګه پوښتنه
څه غرض ؤ چې بهردې کړۀ ښادمنه
زه دوستے ورکوم دا ځواب اے دله
چې خبر ترې افغانان شي د حاصله[46]

په نورو ځایونو کښې داسې وایي۔
زۀ پښتو ورته لیکــم دا رنګ بیان
چې خبر شي په کل حال یې افغانان[47]

دا حدیث وئیلے دے دوست د ودود
زه بیان درته پښتو کــــــوم فزود[48]

د دوست محمد خان دوستي د دې شعرونو نه هم د پښتو ژبې ضرورت او اهمیت په ډاګه شۀ۔ او پته اولګېده چې د فارسۍ او عربۍ نه ترجمې ځکه کولې شوې چې پښتانۀ په نورو ژبو نۀ پوهېدل۔ خو لکه څنګه چې وړاندې د تواریخ حافظ رحمت خاني په حواله ذکر شوي دي چې یوسفزي چې اول اول د کابل نه راغلي وو نو فارسي به یې وئیله۔ نو دلته سوال دا پېدا کیږي چې دوي په فارسۍ پوهېدل نو بیا د فارسۍ نه پښتو ته د ترجمو ضرورت ولې پېښ شۀ۔ دلته دوه خبرې امکان لري یو دا چې کېدے شي دوي د علمي خبرو صحیح وضاحت باندې په فارسۍ کښې نۀ پوهېدل۔ دوېمه دا خبره هم کېدے شي چې ټول یوسفزي به په فارسۍ نۀ پوهېدل خو لږ لږ به پوهېدل نو ځکه د فارسۍ نه کتابونه پښتو ته ترجمه کولے شول۔

پښتو ژبه په سوات ریاست کښې

د پښتو ژبې د ودې او ترقۍ دا سفر هم دغه شان په تېزۍ روان وۀ او په سوات کښې په پښتو ژبه کتابونه لیکلے کېدل۔ (د یادونې وړ ده چې په دې مقاله کښې صرف د

پښتو ژبې د اغاز او ارتقا خبره کيږي نو ځکه په دغه وخت کښې په پښتو کښې د ليکلي شوي کتابونو ذکر دلته ضروري نۀ ګڼم. دغه بحث ما په يوه بله مقاله کښې کړے دے چې د هغې سرخط دے "په سوات کښې د پښتو ادب اغاز او ارتقا").
کله چې د سوات ټولنه د يو قبائيلي دور نه ووتله او دلته يو باقاعده رياست په کال ۱۹۱۵ کښې جوړ شۀ نو بيا هم د دغه رياست ژبه تر څه مودې پورې فارسي وۀ. د سوات وړومبے باچا سېد عبدالجبار شاه وۀ. عبدالجبار شاه په ۲۴م اپرېل کال ۱۹۱۵ کښې د سوات بادشاه جوړ کړے شۀ. په کال ۱۹۱۷ کښې د سېد عبدالجبار شاه متعلق دا خبره مشهوره شوه چې دے قاديانے دے نو ځکه هغه د حکومت نه لرې کړے شۀ. د دې باره کښې د هغه وخت و شاعر داسې ليکي.

يو ملا شولو وارد د هندوستانه
دا ملا د مامدېرۍ وۀ واوره مانه
چې اے خلقو ستاسو شاه خو قاديانے دے
دا احوال معلوم ټول ما ته پخوانے دے
چې ملا د سنډاکۍ پرې خبردار شۀ
مخالف هغه د شاه عبدالجبار شۀ[49]

کله چې سېد عبدالجبار شاه د حکومت نه لرې کړے شۀ نو په کال ۱۹۱۷ کښې د ستمبر په دوېمه هفته کښې ميا ګل عبدالودود باچا منتخب کړے شۀ. او تر ۱۱ دسمبر ۱۹۴۹ پورې يې د سوات د رياست واک اختيار په لاس کښې وو او په کال ۱۹۴۹ کښې د دسمبر د مياشتې په دولسم تاريخ يې د رياست واګې د خپل زوي مياګل محمد عبدالحق جهانزېب په لاس کښې ورکړے او هغه د ۲۸ جون کال ۱۹۶۹ پورې د رياست د والي توګه خپلې ذمه وارۍ تر سره کولې او په ۲۸م جون کال ۱۹۶۹ کښې د سوات رياست په پاکستان کښې ضم کړے شۀ.

د پښتو په تاریخ کښې سوات هغه ورکوټې ریاست وۀ چرته چې پښتو ته سرکاري سرپرستي مېلاؤ شوه او پښتو سرکاري ژبه اوګرځولې شوه ـ په دې باره کښې میاں ګل عبدالودود داسې وایي ـ

> زۀ چې د سوات حکمران شوم نو بیا څه موده پس زۀ په دې نتیجه اورسېدم چې هرې علاقې او هر قام د پاره خپله ژبه خپلول ښه وي ـ خپلې ژبې او خپل تهذیب ته په سپک نظر کتل د پریوتي غلام ذهن کار دے ـ او د خپل قومي وقار او د قومي غېرت سره دښمني کول دي ـ نو ما د خپل ریاست دفتري او عدالتي ژبه پښتو مقرر کړه ـ سرکاري فارمونه، اسټامونه، رجسټرونه، کتابونه دا هر څه مې پښتو کښې چاپ کړل". [50]

میاں ګل عبدالودود په 1917کښې د سوات حکمران منتخب شوے وۀ او پښتو د سرکاري او دفتري ژبې په حیثیت په 1937کښې په نظر راځي ـ په دې حواله چې کله د ریاست سوات سرکاري ریکارډ اولټولے شۀ نو رجسټر نمبر1: بیع نامه جات ، رهن نامه جات، نکاح نامه جات، اقرار نامه جات : از مورخه 21جنوري 1930تا 29-02-1932د دې رجسټر ټولې انټریانې په فارسۍ کښې دي ـ[51] کتاب نمبر: 3بیعه نامه ، نکاح نامه تحصیل خوازه خېله از 03.05.1934تا 14.04.1936په دې کتاب کښې هم ټول اندراجات په فارسۍ کښې شوي دي ـ[52] رجسټر نمبر 101 : رجسټر اندراج فیصله جات تحصیل مټه از 1-6-1935تا 1-5-1944په دې رجسټر کښې د 05-06-1937پورې 99فېصلې په فارسۍ کښې لیک دي او سلم نمبر فېصله چې په 21-06-1937لیک ده دا او د دې نه د 27-5-1944پورې ټولې فیصلې په پښتو کښې لیک دي ـ[53] خوازۀ خېله تحصیل رجسټر نمبر 1: فیصله جات از 08-06-1935په دې رجسټر کښې د 29-05-1937پورې فارسې ده ـ د 16-06-37نه بعد فېصلې په پښتو کښې لیکلې شوي دي ـ په دې رجسټر کښې آخري فېصله په 28-04-42په پښتو کښې لیکلې شوې ده ـ[54] رجسټر نمبر 3فېصله جات فتح پور از 9-7-44تا 6-4-46دا

ټولې فېصلې په پښتو ژبه کښې لیکلې شوي دي.[55] رجسټر نمبر 9کتاب اندراج رهن نامه از 23-4-60تا 21-3-62پښتو کښې دي.[56] کتاب اقرارنامه، نکاح نامه تحصیل خوازۀ خېله از 29-3-62تا 12-6-74. دا پښتو کښې لیک دے .[57] کتاب نمبر 17کتاب فیصله جات نائب مشیر بابوزي مورخه 23-6-69تا 13-6-70دا فېصلې هم پښتو کښې لیکلے شوي دي.[58] رجسټر نمبر 11رهن نامه خوازۀ خېله 27-5-69تا 20-4-70دې رجسټر کښې هم پښتو لیک ده .[59] رجسټر نمبر 33فیصله جات بابوزي محکمه قضا از 6-8-70تا 28-2-74دا هم په پښتو کښې لیکلے شوي دي.[60] رهن نامه تحصیل خوازۀ خېله 1-6-71تا 29-4-72ص 16001تا 16199پښتو کښې لیکلې شوي دي.[61] فېصله جات تحصیل بابوزي 13-6-72تا 15-8-72پښتو کښې لیک دي .[62] رجسټر نمبر 1 : رجسټر بیع نامه فتح پور از 28-4-73تا 1-6-74، رجسټر نمبر 19: رجسټر بیع نامه تحصیل خوازۀ خېله از 23-5-74تا 25-6-74، رجسټرتمسکات از 23-5-74تا 11-6-74، رجسټر رهن نامه تحصیل خوازۀ خېله از 23-5-74تا 12-6-74دا ټول پښتو کښې لیک دي .[63] رجسټر نمبر 1: اقرار نامه فتح پور از 6-5-70تا 4-6-74از صفحه نمبر 38801تا 38999په دې کښې د 3-6-74پورې پښتو ده او په ص نمبر 38999یعنې اخري مخ تمسک نمبر 87تاریخ 4-6-74په اردو کښې دے .[64] بهي نمبر 1جلد نمبر 1خوازۀ خېله رجسټر خوازۀ خېله ضلع سوات از 31-5-75تا 27-8-77دا رجسټر ټول په اردو کښې لیکلے شوے دے.[65]

په دې رجسټرو کښې په یو رجسټر کښې په وړمبي ځل په 16-06-1937پښتو په نظر راځي دغه رنګ په بل رجسټر کښې په 21-06-1937کښې په وړمبي ځل پښتو لیکلې شوې ده . او دې نه مخکښې ټوله فارسي ده . نو پته لګي چې پښتو د جون 1937نه په ریاست کښې د سرکاري ژبې په حیث شروع شوې وه . دغه رنګ کله چې د پښتو د سرکاري ژبې حیثیت ختمیږي او اردو شروع کیږي نو مونږ په یو رجسټر کښې په 04-06-1974اردو وینو دغه رنګ بل رجسټر چې د 31-05-1975نه د 27-

1977-08پورې دې دا ټول په اردو کښې دے ۔ نو پته لګي چې پښتو د جون 1974پورې پښتو سرکاري ژبه وه ۔ او بیا اردو شروع شوې ده ۔
سوات کښې پښتو ته د سرکاري ژبې حیثیت ورکولو کښې د چا تحریک کیدې شه ۔ په دې حواله ډاکټر سلطان روم لیکي چې دا مشوره باچا صیب ته د دېولۍ ذولفقار ملک ورکړې وه ۔ ذوالفقار ملک د باچا صیب نزدې ملګرے او خفیه خبر رسان وۀ ۔ هغه باچا صیب ته دا خبر ورکړۀ چې په افغانستان کښې پښتو سرکاري ژبه ګرځولې شوې ده ۔[66]
په ریاست سوات کښې پښتو ته د سرکاري او دفتري ژبې مقام ورکولو تجویز د سوات والي ته په 1926ء کښې مولانا عبدالقادر هم ورکړے وۀ ۔ مولانا عبدالقادر لیکي چې که جناب میاں ګل صاحب د تعلیم ښۀ خدمت کول غواړي نو پښتو به خپله قانوني او تعلیمي ژبه مقرر کړي ۔ او د خپلو مدرسو نصاب به د پښتو په ژبه کښې منظور کړي نو امید دے چې چرته په اخبار یا رساله کښې د هز مجسټي امیر امان الله خان غازي محض په دې تعریف کیږي او نوم ئې اخستے شي ۔ نو هلته به د دوي نوم ورسره ځلیږي ۔( سرحد اکتوبر 1926ء)[67] په دې حواله عبدالرحمن شباب "د فکریون" په دیباچه کښې لیکي چې دې خبرې ته خو بنده حېران پاتې شي چې دومره کم عمرۍ کښې او د کالج په مست او نا تجربه کار ماحول کښې یو طالب علم دومره رسا او په صدو مخکښې نظر لرونکے ذهن او نظر لري چې د سوات تعلیمي سرګرمۍ ستائي او د سوات والي صاحب ته دا تجویز وړاندې کوي چې سوات به هله ترقي اوکړي او والي صاحب به په اصلي معنو کښې د خپل ملک ښې ورځې اولېدې شي چې د ملک تعلیمي او دفتري ژبه خپله مورنۍ ژبه پښتو اوګرځوي ۔ اوس چې په سوات کښې تعلیمي او دفتري ژبه پښتو ده که دغې ته فکر اوکړے شي نو بنده ته دغه فکر د یو نوخېزۀ هلک په ذهن کښې راتلل یقیناً لویه خبره ښکاري ۔[68]
او کله چې په سوات کښې پښتو ته سرکاري سر پرستي مېلاؤ شوه او دلته د پښتو ژبې او د ادب د ترقۍ انګازې جوړې شوې نو مولانا عبد القادر والي سوات ته په یو

خط کښې ليکي چې دا امتياز او افتخار الله تعالي د سوات د رياست د چلونکي خاندان په برخه کښې ليکلے وۀ ـ چې پښتو په حيثيت د سرکاري ژبې هم په سوات کښې ده ـ کابل چې ډېرې لوړې دعوې کوي او د پښتونستان ساندې وائې، تش په توره دعوې کوي ـ حقيقي امتياز خو د رياست سوات حق دے ـ[69] په افغانستان کښې پښتو په وړمبي ځل په 1936ء کښې سرکاري ژبه اوګرځولې شوه ـ[70]
پوهان صديق الله ر شتين ليکلي دي چې زۀ سوات ته تلے ووم او بادشاه صاحب راته وئېلي وو چې "زمونږ د رياست د کاروبار ژبه پښتو ده ـ خو پخوا فارسي وه ـ دلته مونږ د پښتو ځينې کتابونه هم چاپ کړي دي لکه د سوات د رياست تاريخ، فتاويٰ ودوديه، د انوار سهيلي او د فرشتې د تاريخ پښتو ترجمې ـ مونږ د سوات تاريخ او فتاويٰ ودوديه اول په اردوليکلي وو، خو خان عبد الغفار خان چې دلته راغلے وۀ هغه ما ته ووئېل چې ښايي دغه کتابونه په پښتو نشر شي، نو بيا ما په پښتو هم خپاره کړل ـ وايي چې د سوات تاريخ اول تاج محمد زېب سر په اردو برابر کړے وۀ، سېد عبدالغفور قاسمي په پښتو واړوۀ ـ[71] صديق الله رښتين چې په کوم کتاب کښې دا خبره ليکلې ده دغه کتاب په ۱۹۸۷ کښې چاپ شوے دے او د سوات باچاصاحب يعني مياګل عبدالودود په ۱۹۷۱ کښې وفات شوے دے خو دا امکان لري چې رښتين صاحب د مياګل عبدالحق جهانزېب سره دا خبرې کړې وي ـ خو خبره اصل کښې دا کتل دي چې ايا واقعي د عبدالغفار خان المعروف باچا خان په وېنا دا کتابونه د اردو نه پښتو ته ترجمه شوي دي ـ په دې حواله يو څو خبري د غور کولو قابلې دي ـ يوه خبره دا ده چې د سوات وړومبے معلوم تاريخ په اردو ژبه کښې عبدالغفور قاسمي د "هديه ودوديه"په نوم ليکلے دے ـ او د سوات وړومبے تاريخ په پښتو ژبه کښې هم سېد عبدالغفور قاسمي ليکلے دے چې په ۱۹۳۹ کښې چاپ کړے شوےدے ـ د تاج محمد خان زېب سر تاريخونه د دې نه وروستي دي او هغه په پښتو ژبه کښې ليکلي شوي دي ـ داسې کوم ثبوت نشته چې وښائي چې اول تاج محمد خان زېب سر د سوات تاريخ په اردو ليکلے وۀ او بيا عبدالغفور قاسمي په

پښتو کښې اوليکلو ۔ دويمه دا خبره ده چې تاج محمد خان زېب سر چې د باچاصاحب د دربار يو خاص سړے وۀ هغه د عبدالغفار خان په باره کښې داسې خبرې ليکلي دي چې دا يو اځې د تاج محمد خان زېب سر خبره نۀ ښکاريږي بلکې دا د سوات د رياست د هغه وخت د باچا خبره ښکاريږي ۔ تاج محمد خان زېب سر د عبدالغفار خان باره کښې داسې منظوم وېنا کړې ده ۔

د میر جعفر او د صادق قیصې لاهېږې نه دي
خپل بدانجام ته فکر ولې دا غدّار نه لري
چې د نفاق تخم کري د اتفاق پۀ مزکه
طمع د خېر دې خان صاحب عبدالغفار نه لري
زرده چې اوموميي شکست د هندوستان فوځونه
هندو طاقت د پښتنو د يو ګزارنه لري[72]

لکه څنګه چې وړاندې ذکر شو چې د تاج محمد خان زېب سر د دغه وخت ليک يو قسم له د بادشاه د خولې اواز وۀ نو په دغه تناظر کښې که مونږ د عبدالغفار خان خلاف په سوات کښې دا قسمه خبرې واورو نو ايا مونږ څنګه دا منلے شو چې د هغه خبرې ته به دومره ارزښت ورکولے شوے وي ۔ ددې نه علاوه بله خبره دا هم ده چې په هغه وخت کښې په سېدو شريف سوات کښې د يو دکاندار سره په دکان کښې د خدائي خدمتګار تحريک رساله "پښتون"په موندلو باندې هغه وژلے شوے هم دے ۔[73] د دې خبرو نه پته لګي چې د سوات د رياست د حکمرانانو او د خدائي خدمتګار تحريک د باني عبدالغفار خان تعلقات ښۀ نۀ دي پاتې شوي ۔ د دې يوه وجه دا هم کېدلے شي چې کله انګرېزانو په کال ۱۹۲۶ کښې د سوات رياست تسليم کړۀ نو د نورو خبرو نه علاوه يوه خبره دا هم وه چې دا رياست به د برطانوي حکومت خلاف نۀ استعمالېږي او که مونږه اوګورو نو د خدائي خدمتګار تحريک مبارزه د انګرېزانو سره وه نو دغه وجه معلومېږي چې تر کومې انګرېزان دلته موجود وو نو د سوات د رياست د حکمرانانو او د عبدالغفار خان تعلقات ښۀ نه وو او بيا وروستو په دې

کښې بدلون راغلے دے لکه په ۱۹۲۹ کښې د سوات یو شاعر په خپل یو مطبوعه کتاب کښې د باچاخان ستائینه داسې کوي.

پښتون پخوا خو داسې نۀ وۀ خدایه څه پرې اوشو
په سپینه ږیره ننګیالي فخر افغان اوژړل
بې پته تا خو هډو پت د پښتو او نۀ پالو
پۀ دې لوے غم د پښتونخوا بلوچستان اوژړل[74]

او دا رنګې په خپل بل یو نظم "سرې نخښې"کښې د فخر افغان یادونه داسې کوي.

فخر افغان پورې خندلي دي تا
دغه دې ډېر د سپکو کار کړے دے
په کارنومو باندې قابل یې نۀ شوې
د حقیقت نه دې انکار کړے دے
دښمن قابل دے په غېرت د هغه
د دۀ په توره یې اقرار کړے دے[75]

افغانستان کښې پښتو د سرکاري ژبې په حیث ګرځولو باره کښې ډاکټر سلطان روم لیکي چې پښتو ته د سرکاري ژبې حیثیت ورکولو امتیاز د ریاست سوات دے ځکه چې دلته یک یواځې پښتو دفتري ژبه ده او په افغانستان کښې ورسره دري ژبه هم شامله ده.[76] د دې نه وړاندې په افغانستان کښې هم د پښتو حالات ډېر ښۀ نۀ وو. د کال ۱۹۲۵ یو رپورټ په هغه وخت کښې په افغانستان کښې د پښتو حالات د پښتونخوا نه هم خراب وو. په دې رپورټ کښې یې موازنه هم شوې ده چې ښکاره پته یې لګي چې پښتو په دغه وخت کښې هیڅ حیثیت نۀ لرلو. په دې رپورټ کښې لیکي چې "په افغانستان کښې پښتو د نیمې نه کم خلق وائي او پښتونخوا کښې یې اکثریت وائي. د افغنستان په ښارونو کښې د دراني خاندان ماشومان هم فارسي وائي. په کابل کښې په فرانسي سکولونو کښې صرف یو څو ماشومانو له پښتو

ورځي۔ د افغانستان سرکاري ژبه فارسي ده۔ په افغانستان کښې پښتو ادب نشته۔ کلاسيکي شاعران ځوک نۀ پېژني او نۀ دغلته د پېښور په شان د پښتوکتابونه په بازارونو کښې خرځيږي۔ موجوده باچا غواړي چې پښتو سرکاري ژبه کړي چې عوامي احساسات مضبوط شي۔ په دې حواله د پوهانو يوه غونډه د ملکې د تره سردار محمد زمان خان په صدارت کښې د مجلس پشتو په نوم جوړه شوې ده۔ د دې کميټۍ مقصد پښتو ګرائمر او پښتو فارسي ډکشنري چاپ کول دي ۔ او د دې سره سره نوي تکنيکي اصطلاحات هم چاپ کول دي۔ دا اميد کېدے شي چې دا لغت به چاپ شي او په دې کښې به د پښتو د ټولولهجو الفاظ شامل وي ۔ دا لغت به د لفظونو ماخذونه هم لري او رومن ټرانسکرپشن به لري۔ دا لغت به په يو معقول وخت کښې چاپ شي۔ ما ته اوس اوس د سردار نه دا معلومات راغلل چې ډکشنري مکمل شوه چې دا به يو څو جلدونه وي خو لا پرنټ شوې نه ده۔ په افغانستان کښې د پښتو د ژوندي کېدو د پاره جوش جذبه نشته۔ د دې وجه دا ده چې زيات پشائي، کافر، ترک او غالباً ډېرو پښتنو له لږه فارسي ورځي۔ د دوي په مقابله کښې ډېرو کمو فارسيبانو له پښتو ورځي۔ او که هغوي دا وائي نو جملې ګډې وډې وائي لکه "زۀ پېسه ورکړې بمه "يعني ما پېسې ورکړې دي۔ د ليکلو او لوستلو ټول هدايات په فارسۍ کښې ورکولے کيږي۔ او دا به ډېره ګرانه وي چې دا روايت مات شي د کوم تر مخه چې فارسي سرکاري ژبه ده۔

لکه څنګه چې په انډيا کښې د پېښور لهجه اوچته ده دغه رنګ په افغانستان کښې د د هائي کلاس خلق د لږ ډېر بدلون سره په قندهارۍ لهجه کښې خبرې کوي۔ تر دې چې زۀ د يو اورکزي مهاجر سره مبلاو شوم او هغه هم دا لهجه خپله کړې ده۔ د پښتو املا د درانيانو په تلفظ کښې ليکلے کيږي اودا ليک د کلاسيکي او د پېښور د معيار نه مختلف دے۔[77]

د دې ټولو خبرو نه مونږ دې نتيجې ته رسو چې په سوات کښې پښتو ته د دفتري ژبې حيثيت ورکولو په شا لوئے محرک افغانستان وۀ کوم چې په کال ۱۹۳۲ کښې

پښتو سرکاري ژبه اوګرځوله نو بل کال له په ۱۹۳۷ کښې په سوات کښې پښتو سرکاري او دفتري ژبه په نظر راځي.
میا ګل عبدالودود د پښتو د سرکاري ژبې جوړېدلو فائدې او د پښتو ژبې د ترقۍ باره کښې نور اقدامات په خپل سوانح کښې داسې بیان کړي دي.

دې کښې شک نشته چې د پښتو ژبې خپلولو کښې مونږ ته ډېرې اسانۍ او ډېرې فائدې حاصلې شوې. د دې نه علاوه ما څۀ کتابونه هم پښتو کښې چاپ کړل. هغې زمانه کښې د فیرنګي بادشاهي وه نو د پښتو خوارې تپوس چا کوۀ. ما زړۀ کښې سوچ اوکړه چې د پښتو نه د تعلیم یافته پښتنو د بېزارۍ وجه هم داده چې یو خو پښتو د سرکاري سر پرستۍ نه محرومه ده بله داچې د پښتو کتابونه او لټرېچر پۀ داسې بدرنګه طریقه چاپ کیږي چه هېڅ دلکشي نه لري. هغې زمانې کښې به اکثر هندوانو او سیکهانو دکاندارانو د تجارت دپاره پۀ ډېر نا کاره کا غذ د پښتو کتابونه چاپ کول نو ماضروري اوګڼله چې پښتوکښې یو څو ښکلي او معیاري کتابونه چاپ کړم او بیایې پۀ خلقومفت وېش کړم چې پښتو سره د خلقو د لچسي پېدا شي او ذهني فائده هم ترې حاصله شي.[78]

پښتو چې کله په سوات کښې سرکاري ژبه شوه نو په اردو سکرېټ کښې به لیکلې شوه او ساده او د اسانې ژبې د استعمالولو حکم بادشاه کړے وۀ. لکه د باچا صېب د سوانح په انګرېزۍ ترجمه کښې چې لیکلے شوي دي.

On coming into authority, I declared Pashto to be the official language of the State and adopted the Urdu script as the style of writing. Special forms and registers were prepared in Pashto for use in offices and courts. Both officials and the public were directed to employ simple, every day language in all their writings, and express

themselves briefly and to the point, especially avoiding lengthy salutations and adulatory phrases. [79]

میاںګل عبدالودود پۀ دې خبره پوهه وۀ چې ټولې ژبې د قدر وړ دي خو د خپلې مورنۍ ژبې سرهمینه کول یو فطري امر دے لکه څنګه چې هغه په خپل سوانح کښې لیکلي دي۔

> دپښتو ژبې سره زما د دلچسپۍ مطلب دا نۀ دے چې زۀ ګني د نورو ژبو د اهمیت او ترقۍ نه انکار کوم خو صرف دومره خبره ده چې پښتو زمونږ خپله مورنۍ او علاقایي ژبه ده نو بیا د پښتو سره مینه یو قدرتي امر دے۔[80]

په خط یا درخواست کښې د مختصر القاب او اداب لیکلو باره کښې میاں ګل جهانزیب په 04/10/1960دا حکم جاري کړے وۀ "چې هر څوک په خط یا په درخواست کښې سر نامه لیکي نو هغه به هیچا ته ( قبله و کعبه ، قبله دو عالم) الفاظ نه لیکي۔ خواه که هغه پلار ته لیکي۔ یا بل لوئ افسر ته۔ د هر مسلمان د پاره قبله او کعبه شته۔ هغه کافي دي۔ صرف جناب پوره دے۔ لکه (جناب وزیر صاحب) یا (جناب مشیر صاحب) ۔ [81]په رواجنامه سوات کښې هم دا حکم لیکلے شوے دے۔ [82] دغه رنګ یو بل حکم کښې لیکي چې هر سرکاري نوکر به یو اخبار یا رسالي ته د خوشامدانه تعریف، توصیف، مضمون نه ورکوي البته شاعر خپل نظم یا شعرونه اخبار ته ورکولے شي۔ [83] دا حکم په رواجنامه سوات کښې هم چاپ دے۔[84] د پښتو د بعضې لفظونو د املا باره کښې یې دا حکم کړے دے۔

لاندې الفاظ چې څوک لیکي نو صحیح به لیکي۔ غلط به نه لیکي۔

| صحیح | غلط |
| --- | --- |
| صاحب | صېب |
| معصوم | ماشوم[85] |

نصرالله خان نصر د ریاست سوات د حکمرانانو د ادب نوازۍ او د پښتو ژبې د خدمت باره کښې لیکي چې څنګه چې برصغیر هند کښې د دکن والیانو د اردو د

اديبانو او شاعرانو حوصله افزايي کوله او اردو ژبه يې په دغه حکمت عملۍ سره صرف پنځه سوۀ کالو کښې د ترقۍ معراج ته رسولې وه ـ دغه رنګ والي صاحب هم د هغو په نقش قدم قدم ايښے دے ـ ليکن د هغو او د دوي په کار کښې صرف دومره قدرې فرق معلوميږي چې هغو صرف د اردو ژبې طرف ته توجه ګرځولې وه او دوي اردو ژبې سره سره پښتو ژبې ته هم ترويج ورکوي ـ د دوي په دغه اقدام نه يواځې رياست کښې ښۀ ښۀ شاعران او اديبان د پښتو د ادب په اسمان لکه د ستورو وځلېده بلکې د سوات نه بهر هم ځينې شاعران او اديبان د ګمنامۍ د وريځو نه لکه د نمر سرګندشول ـ دوي د خپلې سالګرې په ورځ يعنې 5جون چې هر کال چراغان او خوشحالۍ کوي په دغه تقريب کښې د صحافيانو، شاعرانو او اديبانو ډېر خاطر تواضع په دې غرض کوي چې نور خلق ترې عبرت واخلي او د شاعر او اديب د قدر او منزلت مقام وپېژني ـ[86]

دغه رنګ په 12دسمبر به هم والي سوات مشاعرې کولې دغه د هغه د تاج پوشۍ ورځ وه ـ په دې پروګرامونو کښې به د ټولې پښتو نخوا شاعرانو برخه اخستله.[87] او والي سوات به د ليکوالانو حوصله افزايي کوله ـ[88] ځکه چې هغه يو ادب دوست انسان وۀ ـ[89]د سوات باچا نه صرف پښتو سرکاري ژبه ګرځولې وه خو د پښتو کتابونه ئې هم ډېر په ښکلي ډول چاپ کول او خلقو له به يې مفت ورکول دې باره کښې هغوئ ليکي چې هغه زما نه کښې د فيرنګي بادشاهي وه نو د پښتو خوارې تپوس چا کوۀ ـ ما زړۀ کښې سوچ وکړۀ ـ چې پښتو نه د تعليم يافته پښتنو د بېزارۍ وجه هم دا ده چې يو خو پښتو د سرکاري سر پرستۍ نه محرومه ده ـ بله دا چې د پښتو کتابونه او لټريچر په داسې بد رنګې طريقې چاپ کيږي چې هيڅ دلکشي نه لري ـ هغې زمانې کښې به اکثر هندوانو او سکهانو دوکاندارانو د تجارت دپاره په ډېر ناکاره کاغذ پښتو کتابونه چاپ کول ـ نو ما ضروري اوګڼله ـ چې پښتو کښې يو څو ښکلي او معياري کتابونه چاپ کړم او بيا يې په خلقو مفت وېش کړم چې پښتو سره د خلقو دلچسپي پيدا شي او ذهني فائده هم ترې حاصله شي ـ[90]

سوات کښې پښتو ژبې ته د دفتري ژبې د حېثيت مېلاوېدو او پۀ دې ژبه کښې د تاليف او تصنيف باره کښې زېب سروايي۔

په غرض د اسانۍ د هرآفغان
کړه پښتو د فتري ژبه دې سلطان
د دې قام د ترقۍ پۀ دې مطلب
د پښتو ترقي غواړي روز وشب
په پښتو کښې سلسله هم د تصنيف
اوس شروع شوۀ پۀ دوران د شاه شريف
په دې ملک کښې هم فقط دې حکمران
د پښتو تصنيف تاليف اوکړۀ فرمان
د پښتو يو مستندنه وۀ کتاب
چې قومي تاريخ هم وي هغه حساب[91]

ده رياست د وخت يو ليکوال زېب سر ليکي چې د رياست د فتري ژ به خپله مورنۍ پښتو ده۔ تمام دفتري او معاملاتي احکام پۀ پښتو ژبه ليکلے شي۔ د مقدمو اندراج، عريضې، سټامپ او تمسکات وغېره ټول پۀ پښتو کښې ليکلے کېږي ۔ شاه عبدالودود پۀ خپل دوران کښې پۀ رياستي دفترونو کښې د فارسۍ ژبې پۀ ځائے پښتو له رواج ورکړۀ۔ او نوربې هم د پښتو ژبې د ترقۍ دپاره لارې چارې اولټولې۔ د تاريخ هندوستان او انوار سهيلي پۀ پښتو ژبه کښې ترجمې هم د ده پۀ حکم او ليکلې شوې۔ او د دۀ پۀ هداياتو فتاويٰ ودوديه هم اوليکلې شوۀ چې يو جلد يې پۀ معاملاتو او بل پۀ عباداتو مشتمل دے۔ د سوات متعلقات تاريخونه پۀ نظم او نثر کښې ليکلے شوي دي ۔ شاه جهان زېب د پښتو ژبې ترقۍ طرف ته پۀ خاص طور متوجه وۀ۔ او د قومي ليکوالو او اديبانو قدر او عزت به يې کولو ۔ د خپلې مورنۍ ژبې د دفتري کېدو فايدې داشوې چې پۀ عدالتو نو کښې د وکيلانو د پېش کېدو ضرورت نشته۔ هر څوک خپل مافي الضمير ظاهر ولے شي او خپله مقدمه چلولے شي

. او هم دا وجه ده چې دلته مقدمې څۀ پیچیده صورت نه اختیار وي.[92] تاج محمد خان زیب سر دا حالات پۀ نظم کې داسې بیانوي.

اول ژبه د فارسۍ هم د فتري وه
عامو خلقوله هم دالویه خواري وه
اوس پښتو د فتري ژبه کړه سلطان
شۀ د عامو خلقو دا مشکل اسان
په پښتو تاریخ تصنیف هم شۀ د سوات
شۀ دې قام وته معلوم هم خپل حالات

د پښتو د ادب دور د کمال دے
چې سلطان د پښتنو دا نیک خصال دے[93]

د پښتو ژبې تدریس

دجون 1937نه مخکښې دلته کښې عدالتي او سرکاري ژبه فارسي وۀ خو د کوم وخت نه چې دلته پښتو سرکاري ژبه شوه نو بیا هم تدریس پۀ نورو ژبو کښې کېده. د میډیم آف انسټرکشن باره کښې ډاکټر سلطان رووم داسې لیکي.

> The medium of instruction in educational institutions in the state, however, was not Pukhto but was the one taught in British India and later in Pakistan, as the educational institutions were affiliatied there and the curriculum was also the same as in the rest of the country. Neverthless, all Swatis educated in these institutions were fluent in reading and writing Pukhtu[94]

ترجمه: بیا هم د ریاست په تعلیمي ادارو کښې پښتو د درس و تدریس ژبه نه وه. خو هغه ژبه به وه کومه چې د برطانوي هند یا بیا وروستو د پاکستان وه. ځکه چې د تعلیمي ادارو الحاق هلته شوے وۀ او نصاب به هم هغه وۀ کوم چې په نور ملک کښې وۀ. خو د دې باوجود ټول سواتیان چې په دې تعلیمي ادارو کښې به یې سبق

ووېلو هغوي به پښتو په روانۍ وېلې او ليکلې شوه ـ د سوات په رياست کښې به په سکولونو کښې د نورو مضامينو سره سره پښتو هم يو مضمون وۀ چې ښودلے به شۀ ـ دې باره کښې د هغه دور په يو کتاب کښې داسې ليکلے شوي دي ـ

په سوات کښې دوه پنځوس ابتدائي او څلور متوسطه مکتبونه او يو هائي سکول شته ـ د متوسطو مکتبونو نصاب يې تاريخ، جغرافيه، انشاء، ادب، علم الاشياء، حساب، عربي، فارسي، پښتو او انګريزي دي ـ[95]

په کال ۱۹۵۱ کښې په سرحدي علاقو کښې دپه پښتو کښې د خواندګۍ شرح په دربم نمبر وه چې د پښتو خواندګي زياته په سوات کښې او په مالاکنډ کښې وه ـ[96] جهانزېب کالج پۀ 1952کښې جوړ شوے دے او څۀ وخت وروستو پکښې پښتو د يو ولسم دولسم پۀ سطح دا ختياري مضمون پۀ حيث ښودلې کيده ـ او داسې معلو ميږي چې د 1969پورې پښتو پۀ ډګري کلاسونو کښې د وئيلو اجازت نۀ وۀ ـ د جهانزېب کالج د ايلم رسالې د دسمبر 1969په ګڼه کښې د پښتو برخې مدير پۀ دې حوله پۀ اداريه کښې داسې ليکي چې نزاوسه پورې پۀ دې کالج کښې پښتو د يو اختياري مضمون پۀ حېث صرف د دولسم جماعت پورې د اخستو اجازت وۀ، د ډګري پۀ کلاسونو کښې پۀ دې پابندي وه ـ[97]

په سوات کښې د پښتو د تعليم په حقله عبدالغفور قاسمي ليکلي دي چې کله چې به ماشوم د لسو کالو شو نو هغه به د ابتدائي ديني او دنياوي تعليم نه فارغ شوے وۀ ـ او بيا به د رياست په باقاعده سکول کښې داخل شو ـ د رياست په سکول کښې به ماشوم ته تاريخ، جغرافيه، انشا، علم ادب، علم الاشيا، حساب، عربي، فارسي، اردو، انګريزي او د پښتو تعليم ورکېدلو ـ[98]

پښتو ژبه ۱۹۲۹ نه ۲۰۰۰

لکه څنګه چې مخکښې ذکر شو چې د دې دور په ادب کښې د پښتنې خاورې ذکر شوے دے هم دغه رنګ د دې دور په ادب کښې د پښتو ژبې ذکر هم شوے دے. "د پښتو په نوم"نومې يو نظم يو څو کرښې دا دي.

اے زما ژبې اے زما د خاندان ژبې
تا ليدل غواړم په اسمان ژبې
ستا په لمن کښې په کثرت سره هيرې وينمه
در و ګوهر دې د رحمان بابا مصرعې وينمه
د خوشحال خان خواږه شعرونه بې ناغې وينمه
تل ځلنده به دې ساتي تا ستا شاعران ژبې
تا ليدل غواړم په اسمان ژبې[99]

فضل محمود روښان وائي چې که مونږه د پښتو په روح ځان پوهه کړو نو ترقي او کامراني به بيا زمونږ په پښو کښې پرته وي. د اغيارو ژبې ايزده کول ښه کار دے او د علم سره تعلق لري. او علم حاصلول په هر مسلمان فرض دي. ليکن خپله مورنۍ ژبه شاته غورځول او پردۍ ژبې په خپل ځان او ذهن حاوي کول د غلامۍ سبب جوړيږي.[100] خو دا خبره هم د يادونې وړ ده "چې څوک پښتو اوخوړل او چا پښتو اوخوړه".[101]

يو بل شاعر د پښتو ژبې باره کښې داسې وائي.

دا کۀ ماته ده خوږه نو هسې نۀ ده
بې له دې نه مې نور څۀ دي په هستئ کښې
په ځانګو کښې زۀ په دې يم للو شوے
لکه مور مې اشنا شوې په سبزنۍ کښې[102]

ډاکټر ديدار په يو بل ځائے کښې پښتو ژبې ته د عقيدت پېرزونې داسې وړاندې کوي.

تهٔ د ګلرنګه پسرلو ژبه ئې
تهٔ د خائست او د جرګو ژبه ئې
تا ورله مينه د خپل ځانه ورکړه
تهٔ د ادم او د درخو ژبه ئې
ستا پهٔ يو ټکي د حيا نه سره شي
تهٔ د لېلی د اننګو ژبه ئې[103]

حبيب الرّحمٰن حبيب د ژبې اهميت داسې بيانوي.

چې ژوندۍ وي د چا ژبه هغه قام ژوندے او لوړ دے
چې شي مړه د کوم قام ژبه ، کهٔ ژوندے وي هغه مړ دے
ترقي کهٔ تنزل دے دي پهٔ ژبه کښې دا دواړه
خپله ژبه چې پرې نهٔ ږدې، خپله ژبه تبغ لوړ دے[104]

رحيم شاه رحيم پښتو ته د عقيدت پېرزونې داسې وړاندې کوي.

اے د پامير پهٔ لوړو زمکو زېږېدلې پښتو
د نوموړو ننګيالو د سربازانو ژبې
اوستا خور د اريا لور د دروند پړونې مېرمن
د غېرتي پښتون شملې د سربازانو ژبې[105]

د پښتو ژبې سره د پښتنو د دې مينې پهٔ وجه پښتو پهٔ سوات کښې ډېره ترقي کړې ده او پهٔ نظم او نثر کښې ډېر تخليقات نن زمانې مخې ته پراته دي.

پښتو ژبه

لکه څنګه چې په وړاندې بابونو کښې وئيلے شوي دي چې سوات هغه وړومبے رياست دے چرته چې پښتو سرکاري ژبه وه. هم دغه وجه ده چې په سوات کښې د پښتو ژبې د ترقۍ او پر مختګ د پاره ډېرې هلې ځلې کيږي. دلته د موروونو ژبو د

نړیوالې ورځ په موقعه د پښتو ژبې د پر مختګ د پاره صلاح ګانې او مشورې هم کیږي او پوهان د دې ژبې د ودې د پاره خپل تجویزونه وړاندې کوي.[106]
یو شاعر په یو نظم کښې پښتو، پښتنو ته داسې مخاطب کړې ده.

راځئ زما غېږې ته ټول جمع شئ
زۀ ستاسو پت ستاسو ښېګړه یمه
زۀ ستاسو ننګ ستاسو وفا یادېږم
زۀ هغه توره یم هم هغه توره
چې هم مېدان ګټي هم ننګ کوي
چې هم جهان ګټي هم جنګ کوي
زۀ ستاسو مور یمه ما اوپېژنئ
زۀ ستاسو کور یمه ما اوپېژنئ[107]

یو بل شاعر د پښتو ژبې په باره کښې داسې وائي.

سپک ورته کتے نۀ شم زما د بابا ژبه ده
دا ژبه پښتو که زما ژبه ده ستا ژبه ده[108]

فضل عظیم عظیم د سوات د سیمې زده کونکو ماشومانو ته د پښتو ژبې باره کښې داسې وائي.

د سوات د سیمې غېرتي او ننګیالو بچوړو
د پلار او مور د پښتنې غېږ ګلالو بچوړو
په پردو ژبو خپله ژبه پښتو هېره نه کړئ
دغه غوښتنه درنه کړمه پوهیالو بچوړو[109]

د پښتو په حیثیت د مورنۍ ژبې اهمیت داسې بیان شوے دے.

پښتو زما د خوږې مور د خولې خوږه ژبه ده
دا زۀ په دې باندې د دې مقام اوچت ګڼمه؟
نه نه يارانو تاسو ټول زما نه ښۀ پوهه يئ
د مورنۍ ژبې په هر ځائے کښې مقام اوچت وي
مونږه يو ټول مسلمانان مونږه پرې فخر کوو
چې زمونږ دين کښې هم د مور د ژبې حق ډېر دے
ځکه چې ټولې صحيفې او کتابونه د خدائے
که نازل شوي دي نو بس هم په هغې ژبه کښې
کومه د وخت د پېغمبر چې مورنۍ ژبه وه[110]

د مورنۍ ژبې پښتو باره کښې يو بل شاعر داسې وائي۔

نشته په خوله کښې د ريا ژبه مې
چې به ګونګۍ شي د صدا ژبه مې
تل به اظهار پرې ډانګ پئېلے کوم
لا خو ژوندۍ ده د بابا ژبه مې[111]

د پښتو ژبې او د پښتون تهذيب قدرنه کونکو باره کښې يوشاعر داسې جذبات لري۔

وائي پښتو خو زما شک پېدا شۀ
دا زېږولي پښتنو به نه وي
هر يو انداز د فرنګي ئې خوښ دے
ځنګه بچي د فرنګو به نه وي
د خپلې ژبې هډو قدر نه کړي
په سپک نظر ګوري پښتو ژبې ته
اوس کړي هغه په خپله ژبه فخر

چې کړېدل د پښتنو ژبې ته[112]

د پښتو سره مينه يو بل ليکوال داسې څرګنده وي۔

وئېلـو کښـې پښـتو هـم پـه ليکلـو کښـې پښـتو
مـزه ده سـتا د نـوم پـه اخسـتلو کښـې پښـتو[113]

د دې شعرونو او حوالو نه پته لګي چې په دې دور کښې هم پښتنو ليکوالانو او شاعرانو د پښتو سره د مينې اظهار کړے دے او پښتو يې ژوندۍ ساتلې ده۔

نتيجه

د معلوم تاريخ مطابق سوات ته د پښتنو د راتګ سلسله د يو زر عيسوي کال نه بعد شروع شوې ده او دغه رنګ په شپاړسمه صدۍ کښې يوسفزي پښتانۀ سوات ته راغلي دي او د دوي د راتګ سره په سوات کښې د پښتو ادب نخښې په نظر راځي۔ په سوات کښې چې کله په شلمه صدۍ کښې رياست جوړ شۀ نو څه وخت وروستو يې د فارسۍ ژبې په ځائے پښتو ژبه سرکاري او دفتري اوګرځوله او بيا وروستو په سکولونو او کالجونو کښې د پښتو درس او تدريس هم شروع شۀ۔ کله چې د سوات رياست په پاکستان کښې ضم کړے شۀ نو بيا هم څه وخته پورې پښتو د دفتري ژبې په حېث په نظر راځي خو بيا ورو ورو د پښتو په ځائے اردو او بيا انګريزي شروع شوه۔

References

[1]Griffth, Ralph T.H., (Translater), The Hymns of the Regveda, 2nd Edn., 1896, o. 314. Also available on www.sacred-texts.com retrieved on 09-05-2014.

[2] **Arrian of Nicomedia** (c. 86/89 – c. after 146/160 AD. He is considered the best source on the campaigns of Alexander the Great.

[3]Barth, Fredrik, Ecologic Relationships of Ethnic Groups in Swat, North Pakistan, American Anthropologist, New Series, Vol. 58, No. 6 (Dec. 1956), p. 1079

[4] Nadive, Rashid Akhter,(Mutarajam), Tuzak e Babere, Musanaf Mirza Zahir ud Din Babar, Lahore, Sange e Mill Publications,1987,p150

[5] Khan, Muhammad Asif, Tarikh Riasat Swat w Swaneh Khyat Bane Riasat e Swat Mian Gul Shahzada Abdul Wadood Khan Badashah sahib, 1958, p,43

[6] Qsime, Syed Abdul Ghafor, Tarikh Riasat e Swat, Peshawar, Hamidia Press, 1939, p,21

[7] : Ibid,

[8]: Ibid, pp,12-13

[9]Bellew, H.W., A General Report on the Yusufzais, Lahore, Sang-e-Meel Publications, 2001, p.66

[10] Tair, Muhammad Nawaz, Dodyal Na Lidalay Swat, Pekhawar, Manzoor Aam Kutab Khana, 1965, p.7

[11]ه Ibid,p.75

[12]Raverty, Henry George, Notes on Afghanistan and Baluchistan, 2nd edn. In Pakistan Quetta, Nisa Traders, 1982, pp. 277,278

[13] Muhammad Akhter, Professor, Swati wa Mumlaqat e Gaber Tarikh k Ayena Ma, Abbot Abad, Sarhad Urud Academy, Qalandar Abad, 2002, p.196-97.

[14] Khan, Hafiz Rehmat (Moalaf), Khalasatu ul Ansab, Mutarajamin: Muhammad Nawaz Tair ao Molavi Fazal Wadood, Peshawar, Pashto Academy Univerisity of Peshawar, 1973, p.147

[15]Raverty, H.G., An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan to the source of the Suwat River with an account of the tribes inhabiting those valleys, Journal of the Asiatic Society (Calcutta) Vol. 31 (No. 3, 1862), p.266

[16] Akbar, Abdul Akbar Khan, Rokhanyan da Mughalo Tarikyan, Pekhawar, Edare Eshat Sarhad, 1966, p.38

[17] Tair, Muhammad Nawaz, Na Lidala Swat, p.7

[18]Sultan-i-Rome, Swat State (1915-1969) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, 2009, p.24

[19]Barth, Fredrik, Ecologic Relationships of Ethnic Groups in Swat, North Pakistan, American Anthropologist, New Series, Vol. 58, No. 6 (Dec. 1956), p.1079

[20]Bellew, H.W., A General Report on the Yusufzais, Lahore, Sang-e-Meel Publications, 2001, p.64
[21]Rafi-us Samad, ***The Grandeur of Gandhara: The Ancient Buddhist Civilization of the Swat, Peshawar, Kabul and Indus Valleys***, New York, Algora Publishing, 2011, pp.7-10
[22]Vidya Prakash Tyagi, Martial Races of Undivided India, Delhi, Kalpaz Publications, 2009, p. 232
[23]Bellew, H.W., A General report on the Yusufzais, Lahore, Sang-e-Meel Publications, 2001/1864, p.182
[24]Mc Mahon, A.H., and Lt. D.G. Ramsay, Report on the tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utmankhel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, 1981/1901, p.18.
[25]Raverty, H.G., An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan to the source of the Suwat River with an account of the tribes inhabiting those valleys, Journal of the Asiatic Society (Calcutta) Vol. 31 (No. 3, 1862), p274.
[26]Muhammad Nazir, A Ghaznavid Historical Inscription from Uḍegrām, Swāt, East and West, Vol. 35, No. 1/3 (September 1985), p.160.
[27] Derwaza, Akhwand,Mukhzan Sara da Muqdama,, Da Taqweem ul Haq Kaka Khil, Pashto Academy University of Peshawar,1969/87
[28] Ibid, p.8
[29] Ibid,
[30] Ibid,p.31
[31] Ibid,
[32] Ibid,
[33] Ibid, p.42
[34] Ibid, p.57
[35] Ibid, p.60
[36] Ibid, p,61
[37] Ibid, p,62
[38] Ibid, p.65
[39] Ibid, p.96
[40] Ibid, pp.108-109
[41] Ibid, p.136
[42] Derwaza, Akhund, Mukhzan, Da Taqweem ul Haq,p.156
[43] Ibid, p.195
[44] Ibid, p.210
[45] Papin Khil, Akhwan Qasim, Fawaid e Sharia, Pekhawar, Rekhman Gul Publishers, p.3
[46] Doste, Dost Muhammad Khan, Ganjatulgohare, Samawana ao Sarana Badrul Hakim Hakimzai, Swat, Mashal Pakhto Tolana, 2014,p.248
[47] Ibid, p.308

[48] Ibid, p.332
[49] Zib ser, Taj Muhmmad Khan, Uoroj Afghan Jild awal, 1360 Hijre,pp.194-95
[50] Khan, Muhammad Asif,p.357
[51] District Record Room Swat,
[52] Swat Stat Record, Thsil Khwaza Khila
[53] District Record Swat,
[54] Swat Stat Record, Tehsil Khwaza Khila.
[55] Ibid,
[56] Ibid,
[57] Ibid,
[58] District Record Swat,
[59] Swat Stat Record, Tehsil, Khwaza Khila,
[60] District Record Swat,
[61] Swat Stat Record, Tehsil Khwaza Khila
[62] District Stat Record,
[63] Swat Stat Record, Tehisl Khwaza Khila
[64] Ibid,
[65] Ibid,
[66]Sultan-i-Rome, Swat State (1915-1969) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, Second Impression 2009, p.223.
[67] Abdul Qadir, Molana, Da Feqar Yoon, Moalaf, Abdu Rehman Shabab, Pekhwar, University Book Agency, 1964/97, p.28
[68] Ibid,pp.7-8
[69] Khatak, Purdi, Moalaf, Da Molana Abdul Qadir Khatona,, Pekhawar, Pashto Academy,1983,p.218
[70] 30 Khatak, Raj Wali Shah, Doctor, Rohalogy, Pekhawar, Pakhto Academy, 2012 , p.30
[71] Rekhtin, Sadiqullah, Da Pakhto Tarikhe Seminar, Pekhawar, University Book Agency, 1987,pp.82-83
[72] Zib Ser, Taj Muhammad Khan, Afghani Dewan Zib Ser, 1949, p.18
[73]Sultan-i-Rome, Swat State (1915-1969) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, 2009, p.137
[74] Shaheen, Abdul Latif, Shughla, Kabal, Jan Kitab Kor, 1969/2010, p.73
[75] Ibid, p.77
[76]Sultan-i-Rome, Swat State (1915-1969) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, Second Impression 2009, p.223.
[77]Morgenstierne, Report on a Linguistic Mission to Afghanistan, 1925, pp. 9-10.
[78] Khan, Muhammad Asif,pp.357-359
[79]Hussain, Ashruf Altaf, The Story of Swat as told by the Founder: Miangul Abdul Wadud Badshah Sahib to Muhammad Asaf Khan, n.p., 1962, p.117.
[80] Khan, Muhammad Asif, pp.357-359

[81] Hukam Nama, Hukmaran Riasat Swat, Tarikh, 10/04/1960
[82] Khan, Ghulam Habib,(Muratab), Rawajnama Swat,, Swat Printing Press,p.203
[83] Hukam Nama, Hukmaran Riasat Swat, Tarikh, 18/12/1960
[84] Khan, Ghulam Habib,p.258
[85] Hukam Nama, Hukmaran Riasat Swat, Tarikh, 30/12/1960
[86] Naser, Nasrullah Khan, Swat, Pekhawar, Azim Publishing House, 1963, p.44
[87] Dehaqan, Rashid Ali, ao Ashraf Durani, Derwash Bacha, Pekhawar, Manzor Aam Press, p.48
[88] Ibid, p.49
[89] Ibid, p.59
[90] Khan, Muhammad Asif, pp.257-58
[91] Zeb Ser, Taj Muhammad Khan, Uoraj e Afghan, Voll:ii, pp.9-10
[92] Zeb Ser, Taj Muhammad Khan, Voll: I, pp.70-71
[93] Ibid, p.373
[94]Sultan-i-Rome, Swat State (1915-1969) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, 2009, p.224
[95] Unknown Book, Having 411 pages, probably publish in 1949 in Afghanistan.
[96]Sultan-i-Rome, Education in the State of Swat, in Hamdard Islamicus, Karachi, Vol. XXXI ( April-June 2008), p. 85
[97] Bakht Mashal,(Edaria), Elam(Pashto Section) Jahan Zaib College Dec,1969,p.3
[98] Qasime, Abdul Ghafoor, Hedai Wadoodedia, Sawdagar Press Pesh Gali Charai, Naeb Barale, 1936,p.63
[99] Khalas, Abdul Salam, Da Shokh Qalam Na ashna Khabera, 1989,p.32
[100] Rokhan, Fazal Mahmood, Adam ao Philosophe, Mingawar, Shuaib Sons Publishers and Booksellers, 1989,p.14
[101] Khan, Painda Muhammad, Da Dashta e Lout Musafar, Menagawara, Shuaib Sons Publishers and Booksellers,1996,p13
[102] Yousafzai, Dr.Didar, Rakhkele Ghashe, Pekhawar, Da Pakhtunkhwa Pohana Dera,2000, p.50
[103] Yousafzai, Dr.Didar, Zwandi Weraz, Pekhawar, Da Pakhtunkhwa Da Pohana Dera,1999,p.187
[104] Habib, Habib ur Rehman, Da Habib Meena, 1970,p.248
[105] GharSanai, Rahim Shah Rahim, 1990,p.102
[106] Dewalai, Ibrahim, D Morani Zabo Aalmi Weraz ao Pakhtana, Mashmola, Deray Miashtenai Meena, 2005, March, Issue:1,Vol:81
[107] Gul Rangzai, Hamid Iqbal, Pasoon h ao Khlasoon, Mengawara,, Shuaib sons and Booksellers, 2012,p.198
[108] Raza, Muhammad Khan, Zwand pa Regzar, 2003,p.141
[109] 45 Azim, Fazal Azim, Da Swat da Sema Zedakawonko Mashoomano ta (Poem), Mashmoola, Dre Miashtenai, Meena, Swat, Issue:1,Oct-Dec,2003,p.45

[110] Qais, Hanif, Bela Shontai, Mengawara, Shuaib Sons, Publishers and Book sellers, 2007,p.102

[111] Yousafzai, Dr.Didar, Tala Maidan, Mengawara, Graphics World,2002,p.84

[112] Mansoor, Muhammad Gul, Mong o,Dwara Lawenae Yo,2006,p.38

[113] Saqib, Muhammad Illyas, Da Mambar Fi Sera, Kabal Swat, Jan Ketabkor,2012,p.130